# د سُنّتو سره محبت دے

# دا دعوتِ اِسلامي

**27-Aug- 2026**

(For Islamic Brothers)

هفته وار د سُنّتو ډکه اجتماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان



پهٔ 27 اګست، کال 2026ء (بمطابق: 13 ربیع الاول، کال 1448ھ) د پاکستان پهٔ هفته وارو اِجتماعاتو کښې کېدونکے بیان

# د سُنَّتو سره محبت دے دا دعوتِ اِسلامي

(پهٔ سُنَّت باندې د عمل کولو د فضیلتونو او د دعوتِ اِسلامي د سُنَّتو پهٔ عام کولو کښې کردار باندې مشتمل بیان)

پهٔ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- د حبیب د تابعدارۍ برکتونه
- ښهٔ اخلاق هم سُنَّت دې
- پهٔ سُنَّتو د عمل کولو پهٔ برکت ورته بخښنه وشوه
- امیرِ اهلسُنَّت او د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تابعداري

پیشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ط وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله　　وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله　　وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د الله پاک د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:

مَنْ صَلّٰى عَلَيَّ فِيْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ اَلْفَ مَرَّةٍ، لَمْ يَمُتْ حَتّٰى يَرٰى مَقْعَدَهٗ مِنَ الْجَنَّةِ

**ترجمه:** څوک چې په ما باندې د جُمعې په ورځ زر [1000] کرته دُرُودِ پاک ولولي، هغه به د هغه وخته پورې نۀ مړ کيږي تر څو پورې چې په جَنَّت کښې خپل مقام وه نۀ ويني- (1)

نبی کی شان میں ہو جس قدر درود پڑھو　　مُحِبّو! پاؤ گے جنّت میں گھر، درود پڑھو

ہزار دَرد کو یہ ایک دَوا کفایت ہے　　جو پیش آئے ذرا بھی خطر، درود پڑھو

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

[1] ... افضل الصلوات للنبهانی، صفحه:25-

## د بیان اورېدلو نیتونه

پۀ **حدیثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار پۀ نیتونو دے۔ [(1)]

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! پۀ ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي۔ راځئ چې د بیان اورېدو نه مخکښې څۀ ښه ښه نِیَّتونه اوکړئ: مَثَلاً ◈ د اللّٰه پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ◈ پۀ اَدَب به کښېنم ◈ ښه پۀ توجُّه به بیان اورم ◈ څۀ چې واورم، د هغې به د یادولو، ښکېله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د حبیب د تابعدارۍ برکتونه

حضرت حبیب راعِي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ تابعي بزرګ دے، د حضرت سلمان فارسي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ پۀ صحبت کښې پاتې شوے وو، حضرت حبیب راعي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ چیلۍ ساتلي وې، هغه به یې بوتللې او د فُرات دریاب غاړې ته به یې تشریف وړلو، هلته به یې د اللّٰه پاک عبادت کولو، داتا حُضُور رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ پۀ خپل مشهور کتاب **کَشفُ المَحجوب کښې لیکلي دي:** یوه ورځ یو کَس د فُرات دریاب پۀ خوا تېریدلو، هغۀ ولیدل چې حضرت حبیب راعي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ نـمونځ کوي او شرمخ د چیلو څوکیداري کوي، پۀ دې لیدو ډېر حیران شو، هُغه کَس د حبیب راعي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د ملاقات د پاره ایسار شو، کله چې هغوئي نـمونځ پوره کړو نو سلام یې عرض کړو، هغوئي د سلام جواب ورکړو، هُغه کَس عرض اوکړو: عالي جاه!

---

[1] … بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1۔

ستاسو د چيلو سره د شرمخ دومره محبت دے چې هغهٔ د هغوئي حفاظت کولو؟ وه يـې فرمائيل: د دې وجه دا ده چې د چيلو مالِک د الله پاک سره محبت کوي (يعني زهٔ د الله پاک سره محبت کووم، ځکه زما سره او زما د څيزونو سره ځناور هم محبت کوي)- بيا حضرت حبيب راعي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د لرګي يو لوښے د کاڼي لاندې کېښودو، فوراً د هغه کاڼي نه د پئيو او د شاتو دوه چينې جاري شوې، حضرت حبيب راعي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د پئيو او د شاتو نه ډک لوښے هغه کَس له ورکړو، دا يـې چې وليدو نو هغه کَس ډېر حيران شو او وه يـې وئيل: عالي جاه! تاسو دا مقام څنګه حاصل کړے دے- وه يـې فرمائيل: د سيدِ عالَم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اِطاعت او فرمانبردارۍ پهٔ ذريعه- (1)

کی مُحَمَّد سے وفا تُو نے تو ہم تیرے ہیں | یہ جہاں چیز ہے کیا؟لوح و قلم تیرے ہیں (2)

**وضاحت:** يعني اے مسلمانه! که چرې تهٔ پهٔ حقيقي معنو کښې د الله پاک د محبوب،مکي مدني رسول صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره وفاداري،محبت او د هغوي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تابعداري اختيار کړې نو صرف د دنيا کاميابي نهٔ بلکې د اخرت کاميابي به درته هم ميلاو شي.

## محبوب ګر نبي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! الله پاک خپل خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته داسې شان عطا کړے دے چې هغوئي خو هغوئي دي چې کوم اِنسان پهٔ رښتوني زړهٔ د هغوئي اداګانې

---

1 ... كَشْفُ الْمَحْجُوْب، طبقه:تبع تابعين، حبيب بن اسلم راعى، صفحه:140، ماخوذاً۔

2 ... كليات اقبال، بانگ درا، 237۔

اِختيار کړي يعني ◈ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې خنګه ناست وو، هم داسې د کېناستو کوشش کوي ◈ خنګه چې به ګرځېدو، هم هغسې د ګرځېدو کوشش کوي ◈ خوراک به چې يې خنګه کولو، هم هغسې د خوراک کولو کوشش کوي ◈ خنګه به چې اودهٔ کېدلو، هغسې د اودهٔ کېدو کوشش کوي ◈ خنګه به چې يې جامې اغوستلې، هغسې د جامو اغوستو کوشش کوي، غرض دا چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت د زړهٔ او ذِهن نه اِختياروي، الله پاک هغه هم خپل محبوب جوړوي- پهٔ قرآنِ کريم کښې اِرشاد دے:

| | |
|---|---|
| قُلْ اِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوْنِیْ يُحْبِبْكُمُ اللّٰهُ وَ يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ ؕ (پاره:3، سورهٔ آلِ عمران:31) | [مفهوم] ترجمهٔ كنزُ العِرفان: اے حبيبه! وفرمايه چې اے خلقو كه تاسو د الله سره محبت كوئ نو زما فرمانبرداره جوړ شئ الله به تاسو سره محبت كوي- |

معلومه شوه چې څوک د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ سنتو باندې عمل کوي، الله پاک هغه خپل محبوب جوړوي-

اللہ کا مَحْبُوب بنے جو تمہیں چاہے
اس کا تو بیاں ہی نہیں کچھ تم جسے چاہو (1)

## د فضيلت معيار د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! تاسو وګورئ چې پهٔ دې دُنيا کښې د انبيائے کرامو عَلَيهِمُ

[1] ...ذوقِ نعت، صفحه:206-

السَّلام نه پس افضل او اعلیٰ اِنسان د مسلمانانو وړومبے خليفه حضرت ابو بكر صِدّيق رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ دے- هغوئي د ټولو نه افضل اِنسان دے، اخر څۀ وجه ده---؟ هغوئي ته د ټولو نه اوچته مرتبه ولې عطا كړے شوه---؟ اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي (د كومې خُلاصه چې ده): د الله پاک رضا د ټولو نه وړومبے د رَسُول طرف ته توجه فرمائي، بيا چې كوم كَس د رسول فرمانبرداره وي، د رسول پۀ وسيله د هغۀ نصيب كيږي- بس څوک چې د رسول د ټولو نه زيات فرمانبرداره وي، پۀ افعالو كښې، پۀ كردار كښې، پۀ اخلاقو او عادتونو كښې چې څوک د ټولو نه زيات د رسول تابعداري كوي، د هغۀ د الله پاک رضا د ټولو نه زياته نصيب كيږي- حضرت ابو بكر صِدّيق رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د نبيانو د نبي، د رسولِ هاشمي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ټولو نه زيات مُشابَهت اِختيارونكے دے، ځكه د حضرت ابو بكر صِدّيق رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ دومره اوچته مرتبه نصيب شوه چې هغوئي د نبيانو او رسولانو عليهِمُ السَّلام نه پس پۀ ټولو اِنسانانو كښې افضل وټاكلے شو-[1]

خدائے پاک کی رحمت سے انسانوں میں ہر اک سے | فُزوں تر بعد از کُل اَنبیا صدیقِ اکبر ہیں [2]

معلومه شوه چې د فضيلت معيار د خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سُنَّت دي، څوک چې څومره ډير پۀ سُنَّتو باندې عمل كوي، د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې څومره ډير مشابهت اختياروي، هغه به هُغه همره د ډير فضيلت والا، هم هُغه همره د الله پاک دربار ته نزدې كيږي-

---

[1] ...مَطْلَعُ الْقَمَرَین، صفحه:248 ماخوذاً-

[2] ...وسائلِ بخشش، صفحه:566-

# پۀ سُنَّتو کښې عظمت دے

الله پاک پۀ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِیْ رَسُوْلِ اللّٰهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (پاره:21، سورۀ احزاب:21) | مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بے شکه ستاسو د پاره د الله پۀ رسول کښې بهترينه نمونه موجوده ده- |

سُبْحٰنَ الله! زما د پاره، ستاسو د پاره، زمونږ د ټولو د پاره بهترينه نمونه څوک ده؟ زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم --!! مونږ له پۀ چا پسې تلل پکار دي؟ ◈ پۀ فلمي ايکټرانو پسې نۀ ◈ پۀ لوبغاړو پسې نۀ ◈ د سوشل ميډيا پۀ مشهورو شخصياتو پسې نۀ ◈ پۀ نوؤ نوؤ فيشنونو پسې نۀ بلکې څو به پۀ خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پسې، هُغه حَسِين او جميل آقا، هُغه خوږ خوږ آقا، هُغه زړونه وړونکے آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کوم چې دومره ښکلے دے، دومره ښکلے دے، دومره ښکلے دے چې د ټولو جهانونو خالِق او مالِک الله رَبُّ العِزَّت هم د هغوئي سره محبت فرمائي-

اعلىٰ حضرت اِمام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ليکلي دي:

جِس کا حُسن اللہ کو بھی بھا گیا | ایسے پیارے سے محبّت کیجیے [1]

وضاحت: د کوم خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حُسن چې د الله پاک هم خوښ شوے دے، د داسې محبوب سره زمونږه هم محبت پکار دے-

[1] ...وسائلِ بخشش، صفحه:195۔

## د سُنَّتو سره د محبت فضیلتونه

خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: چا چې زما د سُنَّت سره محبت اوکړو او دا يـې مضبوط ونیولو، هغه به پهٔ حَظِیۡرَةُ الۡقُدس (یعني پهٔ جَنَّت) کښې زما سره راپاڅولے شي۔[1]

## ځویه زړهٔ صفا ساته---!!

پهٔ یو بل حدیثِ پاک کښې دي: رسولِ اکرم، شاهِ بني آدم صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت اَنس رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ ته اِرشاد وفرمائیلو: ځویه! که کېدے شي نو خپل سحر او ماښام پهٔ داسې حالت کښې کوه چې ستا پهٔ زړهٔ کښې د چا کینه نهٔ وي۔ بیا يـې وفرمائیل: ذٰلِكَ مِنۡ سُنَّتِیۡ یعنې دا زما سُنَّت دي، وَمَنۡ اَحۡیَا سُنَّتِیۡ فَقَدۡ اَحَبَّنِیۡ، وَمَنۡ اَحَبَّنِیۡ کَانَ مَعِیَ فِی الۡجَنَّةِ چا چې زما سُنَّت ژوندے کړو هغهٔ زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغه به پهٔ جَنَّت کښې زما سره وي۔ [2]

## ښه اخلاق ساتل هم سُنَّت دي

د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د یو فرمان: ستا پهٔ زړهٔ کښې چې د چا کینه نهٔ وي، وضاحت کوي او فرمائي: یعنې د مسلمان ورور د طرف نه د دُنیا پهٔ کارونو کښې د

---

[1] ...مسند فردوس، جلد:4، صفحه:424، حديث:7235۔

[2] ...مشکوة المصابيح، کتاب الايمان، باب الاعتصام ...الخ، فصل الثانی، جلد:1، صفحه:55، حديث:175۔

صفا زړهٔ والا وي، سينه يـې د کينې نه پاکه وي، هله به پهٔ هغې کښې د مدينے انوار راځي- خَرِه ائينه او خيرن زړهٔ د عزت قابل نهٔ دے- **نور فرمائي:** لکه څنګه چې پهٔ اعمالو کښې د سُنَّتو پابندي د ثواب ذريعه ده، هم داسې زړهٔ صفا ساتل، ښه اخلاق هم سُنَّت دي- پهٔ کوم سره چې به د رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم قرب حاصليږي- افسوس چې ډېر خلق دلته خوئيږي- د سُنَّتو د تابعدارۍ دعوىٰ کيږي خو سينې يـې د کينو نه ډکې وي- الله پاک دې پهٔ دې سُنَّت باندې د عمل کولو توفيق راعطا کړي- [1]

## ستا ديدن دې پهٔ خير سره وي

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د دې روايتونو نه معلومه شوه چې څوک سُنَّت زده کړي، پهٔ هغې باندې عمل اوکړي، د هغهٔ به پهٔ جَنَّت کښې د محبوبِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاؤنډ نصيب شي- سُبْحٰنَ الله! خومره لوئي نِعمت دے- يقيناً چې جَنَّت ميلاؤيدل هم څهٔ کم نعمت نهٔ دے، البته! پهٔ جَنَّت کښې د نبيانو د سردار، مکي مدني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاؤنډ نصيب کيدل--!! واه! د دې نِعمت به څهٔ وائي؟ اعلىٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکلي دي:

جنّت نہ دَیں، نہ دَیں تری رُویَت ہو خیر سے
اس گُل کے آگے کس کو ہَوَس برگ و بَر کی ہے
شربت نہ دَیں، نہ دَیں تو کرے بات لطف سے

---

[1] … مرآۃالمناجیح، جلد:1، صفحه:172 ملتقطًا-

یہ شھد ہو تو پھر کسے پروا شکر کی ہے [1]

وضاحت: يا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! جَنَّت عطا کېدل يا نۀ عطا کېدل د الله پاک پۀ رضا باندې دي، زما ارمان دا دے چې داسې ځائے نصيب شي د چرته نه چې ستاسو ديدن نصيب کيږي، چې دا ګل نصيب شي نو بيا د جَنَّت د ګلونو د پاڼو (يعني د هغه نعمتونو) څۀ حاجت دے؟ زما که د جَنَّت پاک شراب نصيب کيږي او که نۀ، البته دا سعادت ميلاؤ شي چې تاسو د خبرو کولو شرف راعطا کړئ- چې ستاسو د خوږ خوږ، ښکلي ښکلي اواز شات نصيب شي نو بيا د شکرو وغيره څۀ ضرورت دے؟

## د 100 شهيدانو ثواب

د صحابئ رسول حضرت ابو هريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنۡهُ نه روايت دے، **محبوبِ ذِيشان، مکي مَدَني سُلطان** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمائيلي دي:** زما د اُمت د خرابيدو پۀ وخت زما سُنَّت پۀ مضبوطۍ سره د نيوونکي د پاره د شهيد ثواب دے- [2] **پۀ يو روايت کښې فرمائي:** د هغۀ د پاره د 100 شهيدانو ثواب دے- [3]

علمائے کرام فرمائي: شهيد خو د توريِ زخم يو ځل وخوري او لا ړ شي خو دا (يعني د اُمت د فساد پۀ وخت سُنَّت اِختياروونکے) د الله بنده ټول عمر د خلقو پيغورونه او د ژبو زخمونه خوري، د الله او د رسول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاره هر څۀ برداشت کوي، د دۀ جهاد

---

[1] … حدائقِ بخشش، صفحه:227۔

[2] … معجم اوسط، من اسمه مُحَمَّد، جلد:4، صفحه:119، حديث:5414۔

[3] … مشكاة المصابيح، كتاب الايمان، جز:1، جلد:1، صفحه:55، حديث:176۔

جهادِ اکبر دے- لکه په دې زمانه کښې ړیره پرېښودل، د سود نه بچ کېدل وغېره-[1]

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| سینہ | تیری | سُنّت | کا | خزینہ | بنے | آقا |
| جنّت | میں | پڑوسی | مجھے | تم | اپنا | بنانا |

## په هر سُنَّت باندې د عمل کولو کوشش کوئ!

د مُحَدِّث اِبنِ مبارَک رَحمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ نه روايت دے، د رسولانو تاجدار، مکي مَدَني سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي:

مَنِ اتَّبَعَ سُنَّتِیْ فَھُوَمِنِّی، وَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِیْ فَلَیْسَ مِنِّی

ترجمه: چا چې زما په سُنَّت باندې عمل اوکړو، هغه زما نه دے او چا چې زما د سُنَّت نه بے رغبتي اوکړه، هغه زما نه نۀ دے-[2]

علمائے کرام د دې حديثِ پاک په شرح کښې فرمائي: مطلب دا دے چې کوم اِنسان سُنَّت بد وګڼي، هغه هم د اِسلام نه خارج دے او څوک چې بغير د عذر نه د سُنَّت د پرېښودو عادت شي هغه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خوښو او پرهيزګاره خلقو کښې نۀ دے-[3]

زمونږ د معاشرې دا هم يو کمزورے اړخ دے چې دلته سُنَّتو ته ډېر پام نۀ کيږي، په

---

[1] ...مرآۃ المناجیح، جلد:1، صفحه:173۔

[2] ...کتاب الزہد لابن مبارک، صفحه:320، حدیث:1102۔

[3] ...مرآۃ المناجیح، جلد:1، صفحه:151 بتغیر قلیل۔

سُنَّتو باندې عمل کول خو لويه خبره ده، د سُنَّتو معلومات چرته وي؟ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به ګرځېدو څنګه؟ کېناستو به څنګه؟ د خوراک خوړلو مبارک انداز يې څنګه وو؟ د ارام فرمائيلو انداز يې څنګه وو؟ د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښکلې ښکلې ادا ګانې څۀ وې؟ د دې هېڅ معلومات نشته- آؤ! نوے فېشن کوم يو چليږي، دا معلوم وي؟ نن سبا پۀ مارکيټ کښې د موبائل نوے ماډل کوم دے؟ د ګاډي نوي ماډل کوم يو دے؟ پۀ پېزار، جامو وغېره کښې نوے ټرينډ کوم يو چليږي؟ د دې هر څۀ معلومات وي خو افسوس چې د آمنې د سترګو تور، د بے مثاله رسول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سُنَّتو معلومات د ډېرو کمو خلقو سره وي او چا ته چې د سُنَّتو معلومات وي هم نو هغوئ پۀ دې باندې عمل هم نۀ کوي، مثلاً: ږيرې مبارکې ته وګورئ! کوم يو مسلمان دے داسې دے چې ورته نۀ ده معلومه چې ږيره پرېښودل د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښکلې ښکلې سُنَّت دي خو د نورو نه شرمېږي، د چا سره د نوکرۍ فِکر وي، څوک پۀ څۀ وجه او څوک پۀ څۀ وجه د سُنَّت اِختيارولو نه محرومه پاتې کيږي- کاش چې زمونږ د سُنَّتو سره محبت نصيب شي-

خدا و مصطفٰے ناراض ہوتے ہیں سنو ان سے | جو داڑھی کو مُنڈاتے ہیں یا مُٹّھی سے گھٹاتے ہیں[1]

## د حضرت عثمانِ غني رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عشقِ رسول

د مسلمانانو دريم خليفه اَميرُ الْمُؤمِنِين حضرت عثمان غني رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يو ځل يو ځائے ته ورسيدو او اوبۀ يې راوغوښتلې او اودس يې اوکړو، بيا يو دم مسکے شو او خپلو

[1] ... وسائلِ بخشش، صفحه:291۔

ملګرو ته يې وفرمائيل: [تاسو ته] پته شته چې زهٔ ولې مُسکے شوم؟ بيا يې پخپله د دې پوښتنې جواب ورکړو او وه يې فرمائيل: ما يوه ورځ ليدلي وو چې سرکارِ نامدار، مکي مدني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اودس کړے وو او د اودس کولو نه پس مُسکے شوے وو او صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته يې فرمائيلي وو: [تاسو ته] پته شته چې زهٔ ولې مُسکے شوم؟ بيا مکي مدني مصطفٰے، احمدِ مجتبیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم پخپله وفرمائيل: چې کله انسان اودس کوي نو د مخ وينځلو سره د مخ او د لاسونو د وينځلو سره د لاسونو او پهٔ سر د مسح کولو سره د سر او د ښپو د وينځلو سره د ښپو ګناهونه رژېږي-[1]

| | |
|---|---|
| وُضو کرکے خنداں ہوئے شاہِ عثماں | کہا: کیوں تبسُّم بھلا کر رہا ہوں؟ |
| جوابِ سُوالِ مخاطب دیا پھر | کسی کی ادا کو ادا کر رہا ہوں |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د خبرو کولو پهٔ وخت به مُسکے کېدلو

حضرت اُمِّ دَرداء رَضِيَ اللهُ عَنْها فرمائي چې حضرت اَبُو دَرداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې به کله هم خبره کوله نو مُسکے کېدلو به- ما عرض اوکړو: تاسو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا عادت پرېږدئ، ګني خلق به تاسو بيوقوفه ګڼي- نو حضرت اَبُو دَرداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمائيل: ما چې کله هم د الله پاک خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ خبرو کولو ليدلے يا اورېدلے، نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به مُسکے

[1]... مسندِامام احمد، جلد: 1، صفحه: 190، حديث: 423-

کېدلو-[1] (ځکه زۀ هم پۀ دې سُنَّت باندې د عمل پۀ نيت داسې کووم-)

## د سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوښه زمونږه هم خوښه

د حضرت اَنس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دے چې يو درزي رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم له بلنه ورکړه، (حضرت اَنس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي:) د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره زۀ هم پۀ دعوت کښې شريک شوم، درزي د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مخې ته د وربشو ډوډۍ، کدو او د غوښې خوروا پيش کړه- ما وليدل چې نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ لوښي کښې کدو شريف لټوي او خوري يې- (د دې نه پس حضرت اَنس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د خپل عمل پۀ ښودلو فرمائي:) فَلَمْ اَزَلْ اُحِبُّ الدُّبَّاءَ مِنْ يَوْمِئِذٍ يعنې د هغې ورځې نه پس زۀ کدو شريف خوښووم-[2]

## د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ادا سره محبت

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** تاسو وکتل چې صحابۀ کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم به د سرکار ذي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هره يوه ادا ډېره اِختياروله- د صحابۀ کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم د مبارک ژوند دا ځانګړے او د عشق نۀ ډک انداز دے، بس چې هغوئي ته به څنګه معلومه شوه چې دا کار خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کړے دے نو بيا به هُغه کار کول، د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ادا اِختيارول ګويا چې د هغوئي د ژوند نَسبُ العَين (يعنې مقصد) جوړېدو- د صحابۀ کرامو سيرت ولولئ او وګورئ چې دوئي به د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ادا پۀ اختيارولو کښې دا سوچ نۀ

---

[1] ...مسند امام احمد، مسند الانصار، باقي حديث ابي درداء، جلد:9، صفحه:44، حديث:22359-

[2] ...بخاري، كتاب الاطعمة، باب المرق، صفحه:1390، حديث:5436-

کولو چې مونږ دا اوکړو نو مونږ ته به څهٔ مېلاؤېږي، د هغوئي به د عشق نه ډک دا سوچ وو چې دا کار زمونږه خوږ محبوب (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) کړے دے، بس مونږ به یې هم کوو، ولې به یې کوو؟ چې وه یې کړو نو څهٔ به مېلاؤېږي؟ چې نهٔ یې کوو نه څهٔ نقصان به وي؟ دا سوچونه به یې نهٔ کول ◈ د مسلمانانو وړومبے خلیفه عاشق اکبر،حضرت صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: پهٔ کوم امر چې به خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عمل کولو زهٔ هغه د کولو نه بغیر نهٔ پرېږدم، که چرې زهٔ د رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حال نه څهٔ امر پرېږدم نو زما سره وېره وي چې زهٔ به د سُنَّتو نه مخ اړونکے شم۔ (1)

| اللّٰہ اللّٰہ یہ شوقِ اتباع | کیوں نہ ہو صدیقِ اکبر تھے |
|---|---|

◈ د مسلمانانو دویم خلیفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: د کله نه چې ما سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بغیر د چڼ کړو وړو پهٔ ډوډئ خوړلو لیدلے دے نو د هغې نه پس چرې هم زما د پاره د چڼ کړے شوؤ وړو ډوډئ نهٔ ده پخه کړے شوې۔ (2)

◈ د مسلمانانو درېم خلیفه حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ یوه ورځ د چیلۍ د مځکنبینئ ښېې غوښه را وغوښته او د جومات پهٔ دروازه کښې کېناستو او وه یې خوړله، بیا یې د تازه اودس کولو نه بغیر نمونځ ادا کړو، بیا یې وفرمائیل: یوه ورځ رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم

1... بخاری، کتاب: فرض الخمس، باب فرض الخمس، صفحه: 793، حدیث: 3093۔

2... طبقات ابن سعد، ذکر طعام رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَآلِہٖ وَسَلَّم ... الخ، جلد: 1، صفحه: 301۔

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ دې ځائے باندې ناست وو او د چيلى د مخكښينئ ښپې غوښه يې خوړلې وه، بيا يې هم داسې كړې وو، ځكه ما هم د هغوئي ادا، ادا كړه- (1)

◈ يو ځل حضرت عبد الله بن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا مكے مكرمې ته روان وو، پهٔ لاره كښې يوه وَنه راغله، هغوئي قصداً عمداً د هغې پهٔ ښاخونو كښې خپله عمامه [پټكے] شريف ونښلولو، بيا ودرېدو او هغه يې ترې راخلاص كړو او مخكښې روان شو- خلقو ترې د دې وجه وپوښتله نو وه يې فرمائيل: يو ځل رسولِ اكرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ دې ځائے تېرېدو نو د دې وَنې ښاخونو د هغوئي عمامه شريف پهٔ مينه رانيولې وه (يعنې عمامه مبارک يې پهٔ ښاخ كښې انښتې وه) او نبي كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ودرېدلے وو او خپله عمامه شريف يې راخلاصه كړې وه (بس ماهغه ادا، ادا كوله) - (2)

دغه شان د صحابهٔ كرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُم ډېرې واقعې دي، اللّٰه پاک دې د صحابهٔ كرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُم پهٔ وسيله مونږ له هم د سُنَّتو زده كولو او پهٔ سُنَّتو باندې د عمل كولو توفيق رانصيب كړي- اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

| | | | |
|---|---|---|---|
| هر صحابيِ نبي! | جَنَّتي جَنَّتي | تولې صحابياني هُم! | جَنَّتي جَنَّتي |
| څلور ياران د نبي! | جَنَّتي جَنَّتي | حضرتِ صديق هُم | جَنَّتي جَنَّتي |
| او عُمر فاروق هُم | جَنَّتي جَنَّتي | عُثمانِ غني | جَنَّتي جَنَّتي |
| فاطِمه او علي | جَنَّتي جَنَّتي | دي حسن حُسين هُم | جَنَّتي جَنَّتي |

[1]... مسندِ امام احمد، جلد: 1، صفحه: 198، حديث: 449-

[2]... نور الايمان بزيارة آثار حبيب الرحمٰن، صفحه: 15-

| | | | |
|---|---|---|---|
| والدين د نبي<br>دے مُعاوِيه هُم | جَنَّتي جَنَّتي<br>جَنَّتي جَنَّتي | هره بي بي د نبي<br>او ابُو سُفيان هُم | جَنَّتي جَنَّتي<br>جَنَّتي جَنَّتي<br>(1) |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## پۀ سُنَّت باندې د عمل کولو پۀ برکت وبخښلے شو

اِمام شمسُ الدِّين محمد ذَهبي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکلي دي چې علامه هِبَةُ الله طَبَري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وفات شو نو حضرت علي بن حُسَين رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هغوئي پۀ خوب کښې وليدو او پوښتنه يې ترينه اوکړه: الله پاک ستاسو سره څۀ معامله وفرمائيله؟ جواب يې ورکړو: الله پاک زۀ وبخښلم- عرض يې اوکړو: پۀ څۀ وجه؟ وه يې فرمائيل: د سُنَّتو پۀ وجه- (2)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! تاسو وکتل چې پۀ سُنَّتو باندې عمل کول د بخښنې ذريعه جوړه شوه- يقيناً چې کامياب او کامران دے هغه څوک چې د فرضو او واجبو د ادا کولو سره سره د رسولِ ذِيشان، مکي مدني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت هم اِختيار کړي-

| | |
|---|---|
| ترى سُنَّتوں پہ چل کر مرى روح جب نکل کر | چلے تُو گلے لگانا مَدنى مدينے والے |
| ترے نام پر ہو قرباں مرى جان، جانِ جاناں | ہو نصيب سَر کٹانا مَدنى مدينے والے (3) |

1 …وسائلِ فردوس، صفحه:53۔

2 …سير اعلام النبلاء، رقم:3788، اللالکائى الامام ہبة الله بن الحسين بن منصور، جلد:13، صفحه:270۔

3 …وسائل بخشش، صفحه:428 بتقدم وتاخر۔

## امیرِ اهلِسُنَّت او د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تابعداري

پهٔ اوسني دې فېشن پرست دور کښې چې پهٔ کوم اِستقامت، ثابت قدمۍ، شوق او ذوق او محبت سره امیرِ اهلِسُنَّت سُنَّت اِختیاروي، داسې شوق او ذوق عام طور کم میلاوېږي ◈ زلفې پرېښودل سُنَّت دي، هغوئي پخپله زلفې پرېښودې هم دي او پهٔ لکونو خلقو یـې پرېښودې هم دي ◈ عمامه پهٔ سر کول سُنَّت دي، هغوئي پخپله هم عمامه پهٔ سر کړې ده او پهٔ لکونو نورو خلقو یـې هم پهٔ سر کړې ده، دغه شان نورو سُنَّتو ته وګورئ! ◈ د خوراک سُنَّت ◈ د څښاک سُنَّت ◈ د اودهٔ کېدو سُنَّت ◈ د خوب نه پس د راپاڅېدو سُنَّت ◈ کور ته د راتللو سُنَّت ◈ پهٔ سفر د تللو سُنَّت، عرض پهٔ قِسما قِسم سُنَّتو باندې امیرِ اهلِسُنَّت نهٔ یواځې پخپله عمل کوي بلکې هغوئي لکونه خلق پهٔ دې سُنَّتو باندې عادت کړي هم دي، د هغوئي سیرت مبارک ته چې د نزدې نه وګورې نو معلومېږي چې هغوئي یواځې د سُنَّتو ژوندے تصویر نهٔ بلکې هغوئي خپل ځان د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ سُنَّتو کښې فنا کړے دے ◈ که پهٔ سنجیدګۍ سره سروے اوکړے شي نو پهٔ سوونو سُنَّت داسې دي کوم چې به پهٔ هغوئي کښې پهٔ نظر راځي، کوم چې پهٔ اوسني وخت کښې هېر کړے شوي وو، امیرِ اهلِسُنَّت د هغې د ژوندي کولو سعادت حاصل کړے دے ◈ مِسواک کول سُنَّت دي، پهٔ دې وخت کښې دا سُنَّت امیرِ اهلِسُنَّت ژوندے کړے دے- نن سبا پهٔ دُنیا کښې مختلف قِسمه ورځې نمانځلے شي، مختلف تهوارونه کولے شي، چرته چا د سُنَّت د خوررولو، د سُنَّتو د عام کولو پهٔ غرض **د مسواک هفته** نهٔ ده نمانځلې، کېدے شي چې پهٔ تاریخ کښې داسې څهٔ مثال میلاؤ نهٔ شي- امیرِ اهلِسُنَّت ځغه ورومبے شخصیت دے کوم چې د سُنَّتو د خدمت د پاره **د مسواک هفته** هم نمانځلې

ده ◈ دغه شان نور ډېر داسې سُنَّت دي د کومو چې عوامو ته هډو پته هم نۀ وه چې دا هم سُنَّت دي خو امیرِ اهلِسُنَّت خو امیرِ اهلِسُنَّت دے، هغوئي پۀ دې سُنَّتو باندې پخپله خو ټول کال عمل کوي، د دې سره سره نورو ته هم پۀ دې باندې د عمل کولو ترغيب ورکوي۔

د کومو خوش قِسمتو چې د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه سره د خوراک کولو سعادت نصيب شوے وي، هغوئي ته به معلومه وي چې امیرِ اهلِسُنَّت د خوراک نه مخکښې يو ښه نيت کوي: د سُنَّتو د ژوندي کولو پۀ نيت به وړومبۍ نمړۍ پۀ ښي غاښونو چقووم۔

الله! الله! پۀ عوامو کښې مشکله ده که چا ته معلومه وي چې دا هم سُنَّت دي خو قربان شم! د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه د عشقِ رسول نه--!! لږ غور خو اوکړئ! د خوراک کولو پۀ وخت به څنګه کښېني؟ نمړۍ به څنګه راماتوي؟ د دې پورې چې د خوراک وړومبۍ نمړۍ به د کوم طرف پۀ غاښونو چقوي؟ کوم امیرِ اهلِسُنَّت چې پۀ دې معامله کښې هم پۀ سُنَّتو باندې عمل کوي، هغه به د نورو عبادتونو او رياضتونو وغيره پۀ معامله کښې د کوم حده پورې د خپل محبوب آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تابعداري کوي۔

دا دے د صحابۀ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُم د عشق د مزاج هُغه فيضان کوم چې الله پاک د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه نصيب کړے دے۔

عِطرِ سُنَّت بانٹتا ہے اے مرے عطّار تُو | اَہلِ سُنَّت کے لیے ہے صاحِبِ شاہکار تُو
ساری دُنیا کے کناروں سے صدا آنے لگی | بن چکا ہے عاشقوں کا قافلہ سالار تُو

تُو جہاں کے عاشقوں کے دِل کی دھڑکن بن گیا | عِطرِ سُنَّت بانٹتا ہے اے مرے عطّار تُو[1]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

# دعوتِ اِسلامي سُنَّت بنودونکے تنظيم دے

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پخپله هم د سُنَّتو سره ښه ډېر محبت کوي او سُنَّت اِختياروي، هم داسې هغوئي په ټوله دُنيا کښې سُنَّت هم خواره کړي دي، په اوسني وخت کښې د سُنَّتو په اهميت او فضيلت باندې کتابونه خو ډېر ليکلے شوي دي خو زما ګمان دے چې په اوسني وخت کښې چې څومره په سُنَّتو باندې عمل دعوتِ اِسلامي کوي، په عملي توګه چې دعوتِ اِسلامي څومره سُنَّت ښائي، مشکله ده چې بَل يو ګس يا بل يو تنظيم د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په سُنَّتو عام کولو کښې داسې کردار ترسره کوي- اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دعوتِ اِسلامي والا کور کور ته ځي او سُنَّت ښائي ◈ په قافلو کښې په سفر کولو پخپله په سُنَّتو د عمل کولو پريکټس کوي او نورو ته يې ښائي ◈ په هفته واره اِجتماع کښې د هر زيارت په ورځ د بيان نه پس سُنَّت ښودلے کيږي ◈ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يوه يوه ادا چې لکه څنګه صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُم محفوظ کړې وه، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي والا عاشقانِ رسول د کتابونو نه د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اداګانو ذِکر راوباسي او د علمائے کرامو او د اوليائے کرامو په فيضان سره يې عوامو ته په رسولو، په عملي توګه سُنَّت د خپلو عادتونو

---

[1] ...مناقبِ عطار، صفحه:17۔

او طور طريقو د برخي جوړولو پۀ کوشش کښې مصروف دي-

## نهه غیر مسلمو اِسلام قبول کړو

د حیدر آباد (سندهه، پاکستان) د یو اِسلامي ورور بیان دے: یو ځل د عاشقانِ رسول یوه قافله د حیدر آباد ټنډو آدم خان ته راورسېدله، د قافلې والؤ عاشقانِ رسول د دریو ورځو پورې د نیکۍ ښه ډېر ترغیب ورکړو، پۀ اخرۍ ورځ یو غیر مسلمه ګس راغلو او د جومات نه بهر ودرېدو او د قافلې د امیر سره یـې د مېلاؤېدو خواهش څرګند کړو- د قافلې امیر اِسلامي ورور د جومات نه بهر راغلو، پۀ مُسکا د جوش پۀ انداز کښې یـې د غیر مسلمه سره ملاقات اوکړو- هٔغه غیر مسلمه ووئیل: **اِسلام ډېر پاک دِین دے، د امن او سلامتیا دَرس ورکوي** خو زۀ مسلمان نۀ یم- پۀ دې باندې د قافلې امیر اِسلامي ورور هغه پوهه کړو او د اِسلام قبلولو دعوت یـې ورکړو، اَلْحَمْدُلِلّٰه! هٔغه غیر مسلمه هٔغه وخت کلمه ووئیله او مسلمان شو-

د اِسلام قبلولو نه پس هٔغه نوي مسلمان شوي (***New Muslim***) خواهش څرګند کړو چې زما کور والا هم پوهه کړئ! امید دے چې ستاسو پۀ پوهه کولو به هغوئي هم مسلمانان شي- نو د هغوئي پۀ خواهش د قافلې والا عاشقانِ رسول د هغوئي کور ته لاړل، د هغوئي کور والا (مثلاً پلار، ترۀ، ورور وغیره) یـې پوهه کړل، هغوئي له یـې د اِسلام دعوت ورکړو نو اَلْحَمْدُلِلّٰه! د هغوئي محنت رنګ راوړو او د هغۀ د کور 9 کسانو اِیمان راوړو-

وروستو د قافلې امیر اِسلامي ورور د مسلمان شوي ګس نه پوښتنه اوکړه: تاسو د دِینِ اِسلام پۀ باره کښې نرمه رویه لرله، بیا تاسو دومره موده مسلمان ولې نۀ شوئ؟ هٔغه نوي

مسلمان شوي (*New Muslim*) اِسلامي ورور ووئيل: ما چې د اِسلام په باره کښې څهٔ پهٔ کتابونو کښې لوستلي وو، هغه پهٔ ظاهره پهٔ نظر نهٔ راتلل، کله چې ستاسو قافله راغله نو ما ته د کتابونو اِسلام پهٔ تاسو کښې پهٔ نظر راغلو، ما د دريو ورځو پورې پرله پسې ستاسو معاملو ته د تنقيد پهٔ نظر وکتل نو زما د زړهٔ نه هم دا اواز راغلو چې که هر څهٔ وي دوئي پهٔ اِسلام پهٔ رښتيا عمل کوونکي رښتوني عاشقانِ رسول دي- داسې زړهٔ د اِسلام د رښتوني دِين کېدو ګواهي ورکړه او زهٔ مسلمان شوم- (1)

دل کی کلیاں کِھلیں قافلے میں چلو | رنج و غم بھی مٹیں قافلے میں چلو
فضل کی بارشیں ، رحمتیں ، نعمتیں | گر تمہیں چاہئیں قافلے میں چلو
دل کا کالک دھولے دردِ عصیاں ٹلے | آؤ سب چل پڑیں قافلے میں چلو (2)

صَلُّوْاعَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د خطرناک ډاکو څنګه اِصلاح وشوه---؟

د حيدر آباد (پاکستان) د يو اسلامي ورور د بيان خلاصه ده، هغه وائي چې: مخکښې زهٔ ډېر خطرناک ډاکو ووم، پهٔ خلقو زما ويره خوره وه، زهٔ يو ښه جنګيالے ووم او ډېري پوليس مقابلې مې هم کړې وې، اخر کښې پوليسو زهٔ ګير کړم- پهٔ جيل کښې د اوسيدو باوجود مې هم د جرمونو نوې نوې منصوبې جوړولې- د راخوشي کېدو نه پس

---

1 ... با کردار عطّاری، صفحه:25۔

2 ...وسائلِ بخشش، صفحه:676 ملتقطاً۔

کېدے شي چې بيا د جرمونو پۀ لاره روان شوے وے خو زما خوش قسمتي وه چې ما ته پۀ جيل کښې د دعوتِ اسلامي د شُعبه فيضان قران د اسلامي ورونړو صحبت نصيب شو- د مبلغ دعوتِ اسلامي د ځانله کوشش پۀ برکت سره ما د خپلو تېرو ګناهونو نه توبه کړه او د نيک جوړېدو نيت مې اوکړو، هم پۀ جيل کښې ما ته پۀ مدرسه فيضانِ قرآن کښې د پوره قرآن پاک زده کولو موقع مېلاؤ شوه، ما نـمونځ کول زده کړل، د دې سره سره مې **6 کلمې، ايمان مفصل، ايمان مجمل** او اخري 10 سورتونه هم پۀ يادو ياد کړل- اوس ما يو نوے ژوند شروع کړے دے پۀ کوم کښې چې د جرمونو د پاره هيڅ ځائے نشته- ما دې وئيلو ته پرېږدئ چې زما پۀ شان جرمونه کوونکے ګنهګار خوک چې د پوليس دردناکو وهلو هم صحيح نۀ کړو خو د دعوتِ اسلامي ديني ماحول او د اسلامي ورونړو شفقت زما اودۀ ضمير راويښ کړو او زما د اِصلاح کولو لاريـې جوړه کړه- (1)

شہا! ایسا جذبہ پاؤں کہ میں خوب سیکھ جاؤں | تیری سُنّتیں سکھانا مَدَنی مدینے والے (2)

## پۀ عشقِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې يـې پۀ ژړا ژړا سلګۍ شروع شوې

د بهاول نګر (پنجاب، پاکستان) د يو اسلامي ورور د بيان خلاصه ده چې: ما د حيدر آباد پۀ يوه کارخانه کښې کار کولو، هلته زما ملاقات د يو اسلامي ورور سره وشو، هغۀ ما ته د نيکۍ دعوت راکړو او ورسره يـې د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه بيان د **حضرت بلال** رَضِىَ اللهُ عَنْهُ **عشق**" هم ډالئ کړو، ما هغه بيان ولګولو، د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د عشقِ

---

1 ... 25 کرسچین قیدیوں اور پادری کا قبولِ اسلام، صفحه:1615۔

2 ... وسائلِ بخشش، صفحه:428۔

رسول نه ډک د ادب نه ډک الفاظ زما په غوږونو ډېر خوارهٔ ولګېدل، څنګه چې مې بيان اورېدو نو زما په زړهٔ کښې د عشقِ رسول شمع بلېدله، د بيان اورېدو په وخت مې سترګې د اوښکو نه ډکې وې او په عشقِ رسول کښې د ژړا ژړا نه سلګۍ جوړې شوې، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! داسې د بيان نه متاثره کېدو سره زهٔ د اميرِ اهلِسُنَّت په دربار کښې حاضر شوم، د هغوئي سره مې ملاقات هم اوکړو، عطاري جوړ شوم، ږيره مبارکه مې هم پرېښوده او په سر مې د عمامې تاج هم کېښودو۔ (1)

| | |
|---|---|
| گنہگارو آؤ! سِیَہ کارو آؤ! | گُناہوں کو دے گا چُھڑا مدنی ماحول |
| پِلا کر مئے عشق دیگا بنا یہ | تمہیں عاشِقِ مصطفےٰ دینی ماحول (2) |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! تاسو هم د سُنَّتو زده کولو، ښودلو، په عملي توګه په سُنَّتو د عمل کولو او نورو له د دې د ترغيب ورکولو د پاره د عاشقانِ رسول د دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي دِيني ماحول سره خپل تړون نور هم مضبوط کړئ! ◈ په قافلو کښې سفر کوئ ◈ په په هفته واره اِجتماع کښې په پابندۍ سره د شرکت کولو عادت جوړ کړئ! ◈ په مدني مذاکرو کښې شرکت کوئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! ډېر سُنَّت به زده کړئ۔

1…فِلمی اداکار کی توبہ (حصہ:3)، 108 ملخصاً۔

2…وسائلِ بخشش، صفحہ:648۔

# د دعوتِ اِسلامي تعارف

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! پۀ اوسني د فتنو نه پۀ ډک دور کښې د عاشقانِ رسول دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي پۀ ټوله دُنيا کښې د نيکۍ دعوت عام کوونکے تنظيم دے۔

اَلْحَمْدُلِلّٰه! 2 ستمبر راتلونکے دے۔ هر کال پۀ 2 ستمبر يوم دعوتِ اِسلامي نمانځلے شي۔

| | |
|---|---|
| يومِ دعوتِ اسلامی کا جشن ہے گھر گھر | مصطفےٰ کے دیوانے، کیوں نہ جھومیں خوش ہو کر |
| ہم کو دعوتِ اسلامی کا ہے دیا ماحول | تیرا شکر ادا کیوں کر ہو خُدائے بحر و بر! |
| آؤ دعوتِ اسلامی پلائے گی پیاسو! | اُلفتِ مُحَمَّد کے خوب جام بھر بھر کر |
| جس کو دعوتِ اسلامی خدا نے دی عطّار | خوش نصیبی ہے اُس کی ہے بڑا وہ بختاور |

◈ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه پۀ ستمبر کال 1981ء کښې دعوتِ اِسلامي شروع کړه ◈ هغوئي دا مَدَني مقصد اِختيار کړو چې ما ته د ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي بيا د دې مقصد د پاره نۀ هغوئي شپې ته وکتل او نۀ ورځې ته، پرله پسې يې کوشش کولو، کوشش کولو، د دې پورې چې د الله پاک پۀ کرم او د هغۀ د خوږ حبيب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کرم پۀ نظر، د اولياۓ کرامو پۀ فيضان د دعوتِ اِسلامي پيغام پۀ ټوله دُنيا کښې عام شو۔

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه پۀ مسلسل کوششونو ◈ کوم چې بے نمانځه وو نمونځ ګزاره جوړ شو بلکې د جوماتونو اِمامان جوړ شول ◈ بد نظرې کوونکې

حيادار جوړ شول ◈ مور او پلار تنګوونکي ادب کوونکي جوړ شول ◈ غلا او ډاکوان راغلل، توبه يې وکړه، غلا او ډاکې يې پرېښودلې او د معاشرې شريفان اِنسانان جوړ شول ◈ د حَسَد په وور کښې سوزېدونکي شُکر ګزار او خير خواهان جوړ شول ◈ په فلمونو او سندرو باندې مئين د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعتونه ويونکي او اورېدونکي جوړ شول ◈ د دُنيا په ګنده د ګناهونو نه په ډک عشق کښې اخته، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے د زلفو مئينان جوړ شول ◈ په مال او دولت پسې منډې وهونکي د الله پاک د رضا طلب ګاران جوړ شول ◈ شرابيان راغلل، توبه يې کړه او پاک اِنسانان جوړ شول ◈ غافلان راغلل او عبادت ګزار جوړ شول ◈ بے لارې شوو ته نېغه لار مېلاؤ شوه ◈ د زرګونو کافِرانو د اِسلام نِعمت نصيب شو- داسې يو يو دوه دوه راتلل، د نېکۍ د دعوت په سفر کښې د هغوئې سره ملګري کېدل، قافله جوړېدله او اَلْحَمْدُلِلّٰه! د نېکۍ د دعوت دا دِيني پيغام تولې دُنيا ته ورسېدو-

| | |
|---|---|
| اے امیر اہلسُنَّت تیری شوکت زندہ باد | تجھ سے دُنیا بھر میں ہے دِیں کی اشاعت زندہ باد |
| تیری مجلس میں گئے جو بن گئے صالح سعید | نوجواں پر ہو ترا فیضانِ صحبت زندہ باد |
| گوشہ گوشہ دنیا کا ہونے لگا ہے فیض یاب | عام ہر سُو ہو گیا فیضانِ سُنَّت زندہ باد (1) |

## د دعوتِ اِسلامي شعبې

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! د عاشقان رسول ديني تنظيم دعوت اسلامي

1 ...مناقب عطار، صفحه:1615ملتقطاً-

پيغام 190ته زياتو ملکونو ته رسيدلے دے د دعوت اسلامي د يو څو شعبو تعارف ملاحظه کړئ.

ستاسو خپل دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي پۀ دِيني او د خير ښېګړې پۀ خدمتونو کښې مصروف دے- اَلْحَمْدُلِلّٰه! ◈ د کنزُ الـمدارس بورډ پۀ نوم د دعوتِ اِسلامي خپل تعلمي بورډ دے ◈ تقريبا24زره 200سوو نه زياتي جامعات او مدارسُ الـمدينه د هلکانو او جينکو ***(Boys & Girls)*** د پاره قائم دي، پۀ کومو کښې چې دتقريبا5 لاکهه 97 زرو نه زيات طلبا وطالبات حفظ او ناظره او عالم کورس (درس نظامي) او مختلف تَخَصُّصَات ***(Specialization)***، او فرض علوم او نور کورسونه کوي ◈ د فيضان آن لائن اکېډمی پۀ ذريعه د 90 نه زياتو ملکونو کښې د 70 نه زيات کورسز آن لائن کولے شي، پۀ کومو کښې چې پۀ زرګونو طالبِ علمان دِيني تعليم حاصلوي ◈ 24 دار الافتاء اهلسُنَّت جوړ کړے شوي دي پۀ کومو کښې چې د شرعي رهنمايو شمېره د مياشتې اوسطاً 30 زره ده ◈ د الـمدينةُ العلميه ***(Islamic Research Center)*** پۀ ذريعه پۀ ديني لټرېچر باندې تحقيقي کار کيږي، د دې شعبے لاندې اوسه پورې پۀ د 22 نه پۀ زياتو کتابونو او رسالو باندې تحقيقي کار شوے دے- ◈ د دِيني لټرېچر د چاپ کولو د پاره دعوتِ اِسلامي خپله خپرونکې اداره مکـتبة الـمدينه جوړه کړې ده ◈ پۀ ټوله دُنيا کښې د دِيني کارونو کولو د پاره د دعوتِ اِسلامي پوره سيټ اپ دے، د ذيلي حلقې نه واخله د مرکزي مجلسِ شُورٰی پورې پوره يو نظام جوړ دے، ښار پۀ ښار او کلي پۀ کلي ذمه داران موجود دي ◈ د عاشقانِ رسول پۀ تربيت کولو د هغوئي د دِيني کارونو د پاره ملک او بهر ملکونو ته ليږلے کيږي، هغوئي له باقاعده تنخواګانې ورکړے کيږي او هغوئي پۀ فارغُ البَال (يعني د ګټلو نه بے پروا)

د دِين خِدمت کوي ◈ د ميډيا پهٔ مختلف پليټ فارمز باندې هم د دِين د خدمت لړۍ روانه ده ◈ پرنټ ميډيا (کښې د ډېرو کتابونو او رسالو سره سره د ماهنامه فيضانِ مدينه سلسله جاري ده کومه چې دا وخت د دُنيا پهٔ 7 لوئي ژبو کښې د ټولو نه زياته چاپ کېدونکې مياشتنۍ ده) ◈ پهٔ سوشل ميډيا تقريباً 100 اکاؤنټس دي، پهٔ کومو چې 7 کروړه 27 لاکهه فالورز (*Followers*)دي او د ويوز شمېره پهٔ بلينز (*Billions*) کښې ده ◈ دې نه علاوه د مدني چېنل اُردو، انګلش، بنګله، کِډز مدني چېنل، د مشرانو مدني چېنل او د عربۍ ويب چېنل پهٔ ذريعه د دِينِ اِسلام خِدمت کولے شي ◈ د آئي ټي شعبې له خوا اوسه پورې 55 موبائل ايپلي کېشنز او ډېر اِسلامک ويب سائټس جوړ کړے شوي دي ◈ پهٔ ټوله دُنيا کښې د مسلمانانو د ښېګړې د پاره د ايف جي آر ايف (*FGRF*) شعبه جوړه کړے شوې ده، تقريباً د يو کروړ خلقو اِمداد شوے دے، د هيلتهـ کئير سينټر نه د يو لاکهـ نه زياتو خلقو فائده اخستې ده، 87 زره 452 د وِينې ډراپونه عطيه کړے شوي دي۔

## د دعوتِ اِسلامي ملګرتيا اوکړئ!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! تاسو هم د دين پهٔ دې کار کښې د دعوتِ اِسلامي ملګرتيا اوکړئ! د دې ټولو کارونو او د دعوتِ اِسلامي د ټولو دِيني او د خير ښېګړې کارونو جاري ساتلو د پاره د دعوتِ اِسلامي پهٔ اربونو روپو خرچې دي۔ د دې خرچو پوره کولو د پاره اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! پهٔ 6 ستمبر کال 2026 کېږي: ټيلي تهون- خپل عطيات دعوتِ اِسلامي له ورکړئ، ستاسو چنده پهٔ څهٔ قِسمه جائز، ديني، اِصلاحي، فلاحي، روحاني، د خير ښېګړې، پهٔ ښو او د امدن زياتولو پهٔ جائز او محفوظو کارونو کښې لګېدے شي د پاره د دې چې زياتې شوې خرچې پرې پوره کړے شي۔

دعوتِ اسلامی کی قیُّوم، اِک اِک گھر میں مچ جائے دُھوم
اس پہ فِدا ہو بچہ بچہ یاالله! مری جھولی بھر دے[1]

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

# "القرآن الکریم" ایپلي کېشن

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! نن د ټېکنالوجۍ دور دے- اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول دیني تنظیم **دعوتِ اِسلامي** د جدید ټېکنالوجۍ پهٔ ذریعه هم د عِلمِ دِین عام کولو کوشش کوي- د دعوتِ اِسلامي د ***I.T*** ډیپارټمنټ له خوا یو موبائل ایپلي کېشن جاري کړے شوے دے، د کوم نوم چې : ***Quran Al kareem***(القرآن الکریم ) دے- پهٔ دې ایپلي کېشن کښې ◈ د پوره قرآنِ پاک لوستلو ◈ او د مختلفو قاریانو پهٔ اوازونو کښې د قرآنِ پاک اورېدلو سهولت موجود دے ◈ دې سره سره یو خاص سورت یا آیت ***Bookmark*** کېدے هم شي یعني بیا بیا لوستونکے سورت یا آیت د ***Bookmark*** کېدو سره پهٔ اسانۍ سره لوستلے کېدے شي- اوسه پورې تقریباً د لسو لاکو نه زیاتو ګسانو دا ایپلي کېشن ډاؤن لوډ کړے دے- تاسو هم دا ایپلي کېشن پهٔ خپل موبائل کښې انستال کړئ، پخپله ترینه هم فائده واخلئ او نورو ته هم د دې ترغیب ورکړئ-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1] ...وسائلِ بخشش، صفحه:123۔

# يو څو ضروري اِعلانونه

◈ خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د هر خالي پهٔ ورځ اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پهٔ مَدَني چينل لائيو هفته واره مَدَني مذاکره کوي، د راتلونکي خالي پهٔ ورځ به هم د ماسخوتن د نـمونځ نه پس تقريباً 9:30 بجي اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! هفته واره مدني مذاکره کېږي پهٔ کومه کښې چې به اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول دې پهٔ دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت اوکړي او نورو له دې هم دعوت ورکړي ◈ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت هره هفته د يوې ديني رسالې لوستلو ترغيب ورکوي، پهٔ راتلونکي هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د رساله د امير اهلسنت فرامين قسط: 1 اعلان کولے شي- دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر کړي! ◈ مکـتبة الـمدينه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او د دِين د نورو بزرګانو پهٔ ژوند مبارک جدول يعني (شيډول) زبردسته رساله آقا کا جدول، او د ختمِ نبوت د عقيدې پهٔ اهميت او د دې باره کښې د حکم او د ختمِ نبوت د عقيدې پهٔ حوالې سره د 40 حديثونو رساله سب سے آخری نبی چاپ کړے دے-

د مکـتبة الـمدينه د هرې څانګې نه کتاب آقا کا جدول پهٔ **17** روپېٔ او سب سے آخری نبی پهٔ **40** روپېٔ حاصل کړئ-

د عاشقان رسول دپاره عظيمه علمي او روحاني خوشخبري!د هر کال پشان څکال هم مکـتبة الـمدينه د **يوم عقيده تحفظ ختم نبوت** او **يوم دعوت اسلامي** پۀ موقع باندي د يکم ستمبر نه د 12ستمبر2026 پوري پۀ ټولو کتابونو او رسالو باندي 16فيصد ميګا سيل ډسکاؤنټ افر پيش کوي.د ډسکاؤنټ افر نه فائده اخستلو دپاره د نزدې مکـتبة الـمدينه سره رابطه وکړئ.

صَلُّوْاعَلَی الْحَبِيب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د بيان پۀ اخره کښې د سُنَّتو فضيلت او د ژوند د يو څو آدابو بيانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللّٰہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِی فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنَّتو سره محبّت اوکړو هغه زما سره محبّت اوکړو او چا چې زما سره محبّت اوکړو هغه به پۀ جَنَّت کښې زما سره وي-(1)

سينہ تيری سُنَّت کا مدينہ بنے آقا! | جَنَّت ميں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## د وعدې پابندي سُنَّت ده

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **2 فرامين مبارک دي**: **(1)**: څوک چې وعده نۀ پوره کوي، د هغه هيڅ ايمان نشته-(2) **(2)**: کوم مسلمان چې د خپل ورور سره وعده خلافي

---

[1] ... تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343-

[2] ... مصنف اِبْنِ اَبِي شيبه، کتاب:الايمان، جلد:7 صفحه:223-

اوکړي پۀ هغه باندې د الله پاک او د فرښتو او د ټولو انسانانو لعنت دے۔ [1]

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** وعده پوره کول د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بلکې د انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام سُنَّت دي ◈ زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به پۀ خپله وعده کلک ولاړ وو او ◈ وعده ماتول به يې نۀ خوښول ◈ د نبوت د اعلان نه مخکښې يو ځل يو کَس نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته عرض اوکړو چې: تاسو ودرېږئ! زۀ دا دے اوس راځم، هٰغه کَس لاړو خو واپس راتلل ترېنه هېر شول، 3 ورځې پس هغه ته بيا ورياد شول، چې کله هغه هٰغه ځائے ته راورسېدو نو حېران پاتې شو چې خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د 3 ورځو تېرېدو باوجود هم پۀ هغه ځائے کښې تشريف فرما وو او **مَاشَآءَالله!** شفقت او رَحمت او ښه اخلاقو ته يې وګورئ! چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هٰغه کَس وه نۀ رټلو او نۀ پۀ جلال کښې راغلو، بس دومره يې وفرمائيل: اے سړيه! تا زۀ پۀ مشقت کښې واچولم۔ [2] الله پاک دې مونږ هم پۀ سُنَّت مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې عمل کوونکي او وعده پوره کوونکي جوړ کړي۔ اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

د مختلفو سُنَّتو زده کولو د پاره د مکـتبة الـمدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسُنَّت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سُنَّتيں اور آداب** واخلئ او وه يې لولئ! د سُنَّتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي پۀ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سُنَّتو

---

[1] ... بخاری، کتاب: جزیه، صفحه: 815، حديث: 3179۔

[2] ... اَبُو داوٗد، کتاب ادب، باب في العدة، صفحه: 781، حديث: 4996۔

ډک سفر کول هم دے۔

سُنّتیں سیکھنے تین دِن کے لیے | ہر مہینے چلیں، قافلے میں چلو(1)

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي.

اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاک او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعې [یعنې د جُمعې د شپې] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِي الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائیلي دي چې څوک هره شَبِ جُمعه (یعنې د جُمُعې او زیارت پۀ مینځنی شپه باندې) دا دُرُود شریف پۀ پابندی سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ پۀ وخت کښې د مَدَني آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قَبر کښې د داخلیدو وخت کښې هُم، تر دې چې مَدَني آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبر ته د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.

---

[1] ...وسائل بخشش، صفحه:670۔

[1] راځئ چې مونږ هم په شريکه دا دُرُود ووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

د حضرتِ سَيِّدُنا انَس رضی اللہ عنہ نه روايت دے چې مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوک چې دا دُرُودِ پاک لوَلي که ولاړ وي نو د کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وي نو د ودريدلو نه مخکښې به د هغهٔ ګُناهونه مُعاف کړے شي. [2] راځئ چې مونږ هم په شريکه دا دُرُود ووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازې:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوک چې دا دُرُودِ پاک لوَلي په هغهٔ به د رَحمت اويا دروازې برسيره کړے شي. [3] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه ووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحمد صَاوِی رحمۃ اللہ علیہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: د دې دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو (6) لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي. [4] راځئ چې په

1... اَفْضَلُ الصَّلاة، صفحه:151، خلاصةً.

2... اَفْضَلُ الصَّلاة، صفحه:65.

3... قَوْلُ البَدِيْع، باب ثانی، صفحه:277.

4... اَفْضَلُ الصلاة، صفحه:149.

شريکه يې ووائيو.

## ﴿5﴾ د خوږ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم قُرب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَ تَرضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه کښينولو، پۀ دې باندې صَحابَۀ کرام رَضِیَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا څوک اوچتې مرتبے والا دے! چې کله هغه لاړو نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: دے چې کله پۀ ما باندې دُرُودِ پاک لوَلي نو داسې يې لوَلي. (1) راځئ چې مونږ يې هُم پۀ شريکه ووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوک چې داسې دُرود شريف ولوَلي، د هغۀ د پاره زما شفاعت واجب شي. (2) راځئ چې دا دُرُود هُم پۀ شريکه ووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر [1000] ورځو نيکۍ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

د حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې مَدَني آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے د يو زر [1000] ورځو پورې نيکۍ ليکي. (3) راځئ

---

1...قَوْلُ البَدِيْع، باب اَوّل، صفحه:125۔

2...الترغيب والترهيب، كِتَابُ الذِّكر والدُّعَا، جلد:2، صفحه:329، حديث:30۔

3...مَجْمَعُ الزَّوائِد، كِتَابُ الْاَدْعِيَه، جلد:10، صفحه:254، حديث:17305۔

چې مونږ يې هُم پۀ شريکه ووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر يې چې حاصل کړو

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: چا چې دا دُعا درې ځله ولوستله نو لکه هغۀ چې شبِ قدر حاصل کړو-[1] راځئ چې مونږ هُم دا دُعا پۀ شريکه ووائيو-

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

(د حِلم او کرم کوونکي **الله** پاک نه علاوه هيڅوک د عبادت لائق نشته، **الله** پاک دے، د اووۀ اسمانونو او د عظمت والا عرش رَبّ)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1...تاريخ ابنِ عساکر، 155/19، حديث:4415